حبیب الرحمن رحیمي

۲۰۲۲/۱۱/۱۲

کچغو

کچغو د مسجد درې یو له مشهورو کلیو څخه دی ؛ دا د ګربت د غره په لمن کې یوه ګڼ مېشته سیمه ده چې کابو پېنځه سوه کورنۍ په کې ژوند کوي ، سخته کول ، بیانان ،سنډو ، ګل مرې ، دربند، ولیتکه او مغل کوټ ورته څېرمه کلي دي، په ورستیو وختونو د دې کلي منځ څخه د سیداباد ولسوالۍ اړوند ونځي سیمې ته سرک هم واوښت چې دوه ولسوالۍ سره نښلوي خو د ترڅنګ هغه څه چې موږ یې په خپله څېړنه کې را نغاړو هغه د دې سیمې نوم (کچغو) دی چې جوړښت یې له دوه کلیمو «کچ» او «غو» څخه منځته راغلی دی:

۱- کچ:

دا کلیمه چې له بڼې یې ښکاري د پښتو ژبې د کڅ کلیمه وي ځکه د پښتو هغه اسمونه چې له ځان سره د (څ) توری ولري درې ژبې ته په اوښتو کې (چ) په توري بدلیږي لکه څا، څادر او نور چې په چاه او چادر اړول کیږي یا په بله بڼه کڅ هغه کلیمه ده کومه چې د دوه سیندونو تر منځ پراته کلي ته ویل کیږي، دا نوم تنها تر سیندونو پورې نه محدودیږي بلکې دا اسم موږ په غرونو کې هم موندلی شو دا په دې تعبیر سره هغه کلی چې د دوه غرونو په منځ کې اباد شوی وي خو د دې ادعا ریښتنوالي لپاره د رشاد صاحب هغه لیکنې ته اشاره کوم کوم چې بلند قاش یې بلند کڅ بللی دی او دې تر څنګ اوسنی کاریدونکې کلیمه کوڅه چې په درې کې کوچه ده له همدې کڅ را وتلې ده.

دې تر څنګ ځینې وختونه دا هم عامه ده چې د (چ) توری د په (ج) توري واوړي یا دا چې د کچ کلیمه د په کج واوړي کومه چې زیاتې ماناوې لري خو موږ یې تنها د زوایې یا د کونج مانا را اخلو.

۲ - غو:

دا کلیمه د غره اوښتې بڼه ده ځکه په مختلفو اړونده ژبو کې غره ته ګره ،ګرې ،ګار، ګهر ،کوه او نور ویل کیږي نوله همدې مخې دا کلیمه د فزیکي لید په مرسته هم غره ته نږدې نوم دی کوم توپیر چې په کې لیدل کیږي شاید د لهجو او املایي تېروتنو اغېز وي.

د پورته څېړنې په ترسروالي دې پایلې ته رسېږو چې کچغو د غره ګونج یا د غرنې کلي په مانا راغلی دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ